# شهید محصل

## مستند

د افغانستان اسلامي امارت

وزارت اطلاعات و فرهنگ

د افغانستان ملي راډیو تلویزیون لوی ریاست

د مستند له منځه:

عتیق الله او محمد کریم تازه له پوهنتون څخه کور ته په رخصتۍ راغلي وو.

دواړه د اکا زامن، خو ګډه ګرځېدا او خپل منځي چلند یې تر ورونو هم خوږ و.

تـر درې میاشتینۍ مسافرۍ وروسته د باغ پر پـولـه ناسـت وو او لـه یـوه سپین ږیري سره یې مجلس روان و.

یو دوه نـور ځوانان هم باغ تـه ورګـډ شول او تر روغبړ وروسـتـه سـره کېناستل.

یوه ځوان مخ ور واړاوه او ورته ویې ویل:

ـ څه وخت به وي چې د واده ډوډۍ به مو وخورو؛ کوژدې خو مو هسې هم بې بنداره او غلې تېرې کړې.

عتیق الله مخ ور واړاوه:

ـ زلمی لالا وضعیت تاته ښه مالومېږي چې دې وختونو کې له بنډارونو سره مرګ تړلی دی. نه کېده کنه موږ هم ځوانان یو زړه مو غواړي چې سره کینو، کیسې سره وکړو خو بس د پرنګیانو له لاسه ولاکه لا د کوژدې په خوښۍ پوی شوی یم.

زلمي وخندل:

ـ مقصد واده داسې نه درسره منو؛ وعده به کوې چې خامخا به سره کینو که د شپې له خوا مشکلات دي ورځ خو شته.

عتیق الله د هو په دود سر ورته وښوراوه.

ماشوم راغږ کړل:

ـ کریم لالا! پلار مې دې غواړي...

کریم، عتیق الله او ناستو کسانو ته مخ کړ:

ـ نو زه به لاړ شم!

عتیق الله هم ورسره پاڅېد.

پر پوله ناست بزګر وخندل:

ـ ورځئ، ورځئ تاسې هسې هم نه سره بېلېږئ؛ پـه مخـه مـو ښه شـه.

د ماښام د ډوډۍ لوښي ټول شوي وو.

د سولر ګروپ ته د عتیق الله د کوژدې د دسمال ایینې ځلېدې.

د ټیلیفون زنګ د کوټې چوپتیا ماته کړه؛ عتیق الله له ځایه پورته شو او له ټیلیفون سره دهلېز ته ووت.

دروازه خلاصه شوه او عتیق الله بېرته کوټې ته ننوت.

پلار یې وپوښتل:

ـ څوک و؟

عتیق الله وخندل:

ـ کریم و؛ ویل یې چې زموږ مهمانخانې ته راشه.

پلار یې موسکی شو:

ـ ورځه، خو د کوټې ګروپ تر لس بجو وروسته ګل کړئ.

عتیق الله په سړه هوا کې له کوره ووت او شېبه وروسته یې له شین چایه ډکه پیاله مخې ته ایښې وه او له محمد کریم سره یې تود مجلس روان و.



شاوخوا څلور ساعته وروسته د کوټې ګروپ مړ شو او سره ناستو ملګرو هم له یو بل څخه یې د خوب اجازه واخیسته.

عتیق الله له بالښته سر پورته کړ:

ـ کریمه! مقصد ټیلیفـون دې ګـل کـړه؛ ګوره دا د پوهنتون لیلیه نـه ده؛ دا کلی دی.

د کریـم غـږ رانغی او د ټیلیفون د ګل کېدو لنډ زنګ سره په حجره کې خاموشي خوره شوه.

ترڅه ځنډ وروسته په حوېلۍ کې پرلپسې ډزو عتیق الله راویښ کړ؛ په ځای کې را کېناست او ورو یې پر کریم غږ وکړ:

ـ کریمه! و کریمه! جګ شه چې حوېلۍ کې ډزې دي.

کریم په اړخ شو؛ د ډزو غږ مهمانخانې ته نږدې شو.

کریم وپوښتل:

عتیق الله څه کیسه ده؟

عتیق الله ورو وویل:

ـ نه پوهېږم

کریم د مهمانخانې له کړکۍ پرده کش کړه.

سپینې سپوږمۍ ته د ونو ښاخونه تور ښکارېدل.

بېرته یې کش کړه او کریم ته یې وویل:

ـ عتیق الله چغې اورې!

له همدې سره د حجرې په دهلېز کې کړپه هار شو.

عتیق الله د دروازې خواته منډه واخیسته؛ د دروازې له خلاصېدو سره د ټوپک دوه درې ډزو شاته وغورځاوه.

کریم چغه کړه.

عسکر په مهمانخانه ننوتل له پر له پسې ډزو سره د کریم چغې ورکې شوې.

شپه سبا شوه او له هوارو د لمر شغلې په ورټولېدو وې.

پر دوه څنګ په څنګ قبرونو د کوژدې دسمالونه هوار وو.

په عمر پوخ سړي تلاوت کاوه او تر قبرونو ګرد چاپیره د عتیق الله او محمد کریم د کورنیو غړي له ژړا سرې سترګې او ځوړند سرونه ناست وو.

دا د پکتیا په زرمت ولسوالۍ کې د یرغلګرو د مرګونې چاپې د دردونکي مستند د کیسې یوه برخه ده.




د مستند له منځه: نکریزو رنګ د وینو واخیست!

شپې د خوښۍ څادر وغوړاوه، د تیارې د خاموشۍ طلسم د ښادۍ شور مات کړ، د شواروز خلک او د نجیب الله د کورنۍ خپل او خپلوان جوپه، جوپه د دوی کور ته ورتلل چې د واده په مراسمو کې یې ګډون وکړي او دغه خوشحالي ورسره ونمانځي.

د هر چا په شونډو د خوښۍ او ښادۍ مُسکا خوره وه او د زاړه توت په خوا کې ماشومانو په مستۍ او شور ما شور د شپې فضا رنګینه کړې وه.

تنکیو زلمو پټاکۍ الوزولې، هیا هوا! تر دې کچې و، لکه د اختر شپه چې وي، کټ مټ همداسې یو تصویر تر سترګو کېده.

دجمعه خان کاکا په کور کې د خوږې تر دېګونو لاندې اور بلېده، ځوانان په کارونو بوخت و، چا له اشپز سره مرسته کوله او چا غوري وینځل.

مېلمانه یو پر بل پسې را روان او

حجرې له خلکو ډکې شوې، دسترخوانونه وغوړېدل، ډوډۍ ورکړل شوه، ځینې کلیوال خپلو کورونو ته ستانه شول.

نږدې خپلوان او له لرې راغلو مېلمنو د نجیب الله د واده خوښي لا ګرمه کړه.

په حجره کې د مشرانو تود مجلس برابر و او تر څنګ یې له بلې خونې د ځوانانو د بنډار غږ هم اورېدل کېده.

نږدې لس نیمې بجې وې، هلته د ناوې په کور هم د مېلمنو کمی نه ؤ، هرې خوا د خوشحالۍ تږغ غوړېدلی و، د شواروز د کلي رنګ او رُخ بدل ښکارېده، اوازه شوه چې د نجیب الله له کوره د خېښ کور ته نکریزې وړي. د سرای (کور) په لویه دروازه کې یوه سراچه او ټونس موټر ولاړ و.

له ست او سلا پرته خلکو ځانونه ځای پر ځای کړل او د ډېرو نورو په څهرو د غم کرښې له ورایه ښکارېدې چې له تګ څخه پاتې شول، خو بله چاره نه وه، هلته هم خلکو د دوی د ورتګ انتظار کاوه.

که څه هم د خېښ (ناوې) تر کوره فاصله ډېره نه وه، خو د ښځو او ماشومانو ګڼې ګونې مجبور کړل چې په موټرونو کې ولاړ شي.

نجیب الله موټروان ته غږ وکړ: درځه چې ناوخته کیږي، خلک منتظر دي باید په وخت ورسیږئ چې بېرته به هم راځئ.

موټروان ورغبرګه کړه: سمه ده، زه چمتو یم، ته لږ صبر وکړه چې دا ښځې او ماشومان ځانونه ځای پر ځای کړي، خدای مکړه چې کوم یو ونه غورځي او ښادي مو په غم بدله نه شي.

څو شېبې وروسته موټروان موټر ته پورته شو، د ټونس تر شاه د سراچې کلي هم تاو شوه، د ښځو او ماشومانو د خوښۍ او ښادۍ شور ماشور شپه نوره هم رنګینه کړې وه، خو لا موټروان د ټونس کلي نه وه تاو کړې چې د یوه زړه (بګنوونکي) درز غږ پورته شو، فضا ګرد او لوخړو ونیوله او ورپسې د مرمیو ټکان هم پیل شو.

د ښادۍ شور او زوګ د اشغالګرو چاپې، د ډرون الوتکو بمباریو او د ټوپک د مرمیو ټکان په خپل منګول کې ونیول.

د شواروز د خلکو او ښادۍ والا ساندې او کوکې اورېدل کېدې چې د غم په تږر کېناستل او ښادي یې په یوې لویې غمیزې بدله شوه.

له ښځو او ماشومانو دوه ډک موټرونه داسې لولپه شول چې له سرو وینو پرته د انسانانو یوه نښه هم پکې نه وه پاتې شوې.

د زاړه توت نه لاندې سپېره او وچه ویاله د انسانانو له سرو وینو ډکه وه او د دغه توت په ښاخونو کې د انسانانو غوښې نښتې وې.

د شپې درېیمه برخه تېره وه چې اشغالګر بېرته وګرځېدل، د سهار رڼایي تازه، تازه سر راښکاره کړ، څمکه سپینه برېښېده، خو د خاموشۍ کنګل شوي زړه لا ټکان نه و کړی، چې د شواروز خلک یو، یو له خپلو کورونو راووتل او د پېښې ځای پر خوا ټکني، ټکني ور روان شول.

ورو، ورو ګڼه ګوڼه ډېرېده، خلک د شهیدانو او زخمیانو په راټولولو لګیا شول، د چا د ساندو غږ نه اورېدل کېده، مرۍ غریو نیولې وې او داسې برېښېدل لکه د ټول کلي د خوښۍ جنازه چې پورته شوې وي، کلیوالو د خپلو خپلوانو او خواخوږو غوښې راټولولې او د نجیب الله ښادي د اشغالګرو د ظلم، وحشت او بربریت له کبله د بې ګناه خلکو پر شهادت تمامه شوه چې اوس د شواروز خلک د خپلو خوا خوږو د لاسه ورکولو له کبله په رواني ناروغیو اخته شوي دي.

دا د هلمند ولایت شواروز کلي کې د چاپې ریښتنې کیسه ده چې د افغانستان ملي راډیو ټلویزیون پرې مستند فلم جوړ کړی دی.

د کتلو لپاره یې کیو ار کوډ سکن کړئ او د مستندونو له یوه ستر ګروپ سره یو ځای شئ.

که تاسو هم په خپلو سیمو کې د شل کلن اشغال پر مهال د بهرنیو یرغلګرو ځواکونو لخوا د ورته پېښو او یا هم داسې نورو جنایتونو شاهدان یاست کولای شئ، چې د واټساپ له لارې یې له موږ سره شریکې کړئ، ترڅو موږ یې په مستند ډول ثبت او نشر ته یې لومړیتوب ورکړو.

۰۷۴۴۳۴۳۶۶۸

@RTADOCUMENTARY

Android

Iphone

NEWS

SPORT